لدې پلیټ (زنا) څخه ځان وساتۀ چې الله تعالی ترې منع کړې) ده، نو څوک چې پکې ښکېل شو د الله په پرده دې ځان وپوښي او الله تعالی ته دې توبه وکړي، ځکه څوک چې مورِ ته ځان وښایي، مورِ پرې د الله تعالی د کتاب حکم جاري کوو)

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله أسلمي سنګسار کړ ودریدو او ویې فرمایل: (لدې پلیټ (زنا) څخه ځان وساتۀ چې الله تعالی ترې منع کړې ده، نو څوک چې پکې ښکېل شو د الله په پرده دې ځان وپوښي او الله تعالی ته دې توبه وکړي، ځکه څوک چې مورِ ته ځان وښایي، مورِ پرې د الله تعالی د کتاب حکم جاري کوو).

[صحیح دی] [الحاکم او البیهقي روایت کړی دی]

ابن عمر رضي الله عنهما وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماعز بن مالک الأسلمي رضي الله عنه له سنګسارولو وروسته ودریدو، خلکو ته یې خطبه ورکړه او ویې فرمایل: لدې او هرې پلیټې ګناه چې الله تعالی ترې منع فرمایلې ده ځان وساتئ، او له چا چې کومه ګناه وشوه، یا یو څه پکې ښکېل شو نو دوه کارونه پرې واجب دي: لومړی: چې د ځان پرده وکړي، ځکه الله تعالی یې پرده وکړه، او هېڅوک دې په خپله ګناه نه خبروي. دویم: الله تعالی ته دې په توبې وبستلو بیړه وکړي او په ګناه دې اصرار نه کوي، او مورِ ته چې د چا ګناه ښکاره شوه، مورِ پرې حد جاري کوو، کوم چې د الله په کتاب کې د نومورې ګناه لپاره ذکر شوې ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58240